**د هغو جوازلرونکیو (مشروطو) افغانانو لپاره مالوماتي پاڼه چې له نظامي مرکزونو څخه خارجيږي**

- د کډوال لپاره ځانګړې ضمیمه

**متحدو ایالاتونو ته ښه راغلاست. خپلو نویو کورونو ته د سفر او محلي ټولنو کې د ادغام پرمهال به ستاسو روغتیا، مصونیت او هوساینه زموږ له اساسي لومړیتوب څخه وي.**

## د کډوالۍ ځانګړې ویزې

که چیرې فکر کوئ چې د متحده ایالاتو د دولت لخوا یا د هغه په استازیتوب د کار له امله د ځانګړي کډوال په توګه د وضعیت د بدلون/تنظیم په موخه د غوښتنې لپاره په شرایطو برابر یاست، او یا دا چې په خپل غوښتنلیک مو کار پیل کړی وي، خو د کډوالۍ د ځانګړې ویزې اړوند غوښتنلیک پروسه مو متحده ایالاتو ته له راتګ څخه مخکې نه وي بشپړه کړې، تاسو باید لاندې پروسه بشپړه کړئ:

1. په بهرنیو چارو وزارت کې د ماموریت د رییس (COM) د تأیید په موخه خپل غوښتنلیک وړاندې کړئ. په دې اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره دغه travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/special-immg-visa-afghans-employed-us-gov.html وېبسایټ وګورئ یا د travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/siv-iraqi-afghan-translators-interpreters.html وېبپاڼې ته مراجعه وکړئ. که چیرې مو له وړاندې د ماموریت د رییس (COM) تأیید ترلاسه کړې وي، بیا د دې پروسې دویم پړاو پیل کړئ.
2. د Form I-360 فورمه ډکه او د آسیایي-امریکایي، کونډې / کونډ لپاره، یا هم متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدمتونو (USCIS) ادارې ته خپل غوښتنلیک ولېږئ. د www.uscis.gov/i-360 په وېبسایټ کې ذکر شوې لارښوونې تعقیب کړئ. تاسو کولای شئ چې خپل غوښتنلیک د اړتیا وړ سندونو سره یوځای سکېن او د برېښنالیک (د Pdf په بڼه) له لارې یې دغه برېښنالیک gov.dhs.uscis@nsci360sivapp ته ولېږئ. که چیرې غواړئ چې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدمتونو (USCIS) اداره ستاسو د سندونو برېښنایي رسید ترلاسه کړي، بیا د ترلاسه کوونکي برېښنایي آدرس هم ولیکئ. که چیرې مو د Form I-360 فورمه تأیید شوې وي، بیا د یادې پروسې دریېم پړاو پیل کړئ.
3. که چیرې د Form I-360 تصویب شوې فورمه د ځان سره لرئ، کولای شئ چې د دې (Form I-485, Application to Register Permanent Residence or Adjust Status) لینک په کارولو سره د I-485 فورمې د لېږلو له لارې د دایمي استوګنې د قانوني وضعیت په هکله خپل غوښتنلیک د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدمتونو (USCIS) ادارې ته وړاندې کړئ. په اړه په www.uscis.gov/green-card-for-an-afghan-employed-behalf-us-government وېبسایټ کې موجودې دې لارښوونې تعقیب کړئ. د دایمي قانوني استوګن په توګه ستاسو د Form I-360 فورمه باید د وضعیت د تنظیم اړوند د Form I-485 فورمې له ډکولو څخه وړاندې تصویب شوې وي.
4. د Form I-485 فورمې له ډکولو وروسته، د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدمتونو (USCIS) اداره به ښایي تاسو د مرکې لپاره وغواړي. د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدمتونو (USCIS) د ادارې لخوا وړاندې شوې لارښوونې تعقیب کړئ. د Form I-485 فورمې د تصویب په صورت کې به د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدمتونو (USCIS) اداره تاسو ته د پُست له لارې د قانوني دایمي استوګنې کارډ در ولیږي (چې د ګرین کارډ په نوم هم یادیږي).

**لګښتونه/فیس**

- د ځانګړي افغان کډوال لپاره د(Form I-360) ډکه شوې فورمه د هر ډول فیس یا لګښت له ورکړې څخه مستثنی ده.
- د ځانګړي افغان کډول لپاره د I-۳٦۰ تصویب شوې فورمې له مخې د I-٤۸۵ فورمه هم د فیس له ورکړې څخه مستثنی ده. غوښتونکي باید د I-٤۸۵ فورمې د ښي لوري په سر کې د (OAW) اړوند څرګندونې هم ذکر کړي.

ځانګړي افغان کډوال، غوښتونکي، ګټه اخیستونکي، یا هم مربوطه مدافع وکیلان کولای شي چې د Form I-360د ځنډول شوې فورمې په هکله پوښتنو د ځوابونو د ترلاسه کولو په موخه د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدمتونو (USCIS) اداري سره په د ۵۲۸۳- ۳۷۵- ۸۰۰ شمېره او یا د (۱۸۳۳- ٦٧٤- ۸۰۰ TTY) په وسیله اړیکه ونیسي. د تماس نیولو د مرکز کاري ساعتونه د دوشنبې څخه د جمعې تر ورځې پورې د سهار له ۸:۰۰ بجو څخه پیل او د ماښام تر ۸:۰۰ بجو پورې دوام کوي. هر هغه څوک چې د متحده ایالاتو څخه بهر په دې هکله د مالوماتو غوښتنه کوي باید د دې ۳۴۱۸- ٦۲۰- ۲۱۲ شمېرې سره اړیکه ونیسي او یا هم د خپلې قضیې څرنګوالی په آنلاین ډول په دغه egov.uscis.gov/casestatus/landing.do وېبسایټ کې وګوري.

د ماموریت د رییس (MOC) سره د غوښتنلیک یا ویزې د ځنډېدو په هکله د پوښتنو اړوند مالوماتو ترلاسه کولو په موخه، لطفاً د بهرنیو چارو وزارت دې (https://travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/special-immg-visa-afghans-employed-us-gov.html) وېبپاڼې ته مراجعه وکړئ.